مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۴/۰۳/۱۲

# یو وږی چې دې موړ کړلـو عـمـره ده او روژه ده

## غـزل

زموږ خو له اوله لوږه زده ده او روژه ده
زموږ خو په همدغې کې پرده ده اوروژه ده

مالداره! پـه بورۍ اوږو جنت څومره ارزان دی؟
ټولنه مې پـه وږې نـس ویـده ده او روژه ده

باران پرې له اسمانه ښه پرېمانه خدای نازل کړ
بس پاتې د نوړۍ ډوډۍ کیسه ده او روژه ده

یو نیت د سخاوت د لمونځ ددوی پر لور پکار دی
ددوی خو په سینو کې هم کعبه ده او روژه ده

بـاوره! امتحان دی لـه بېوسو خـبـرېـدل دي
یو وږی چې دې موړ کړلـو عـمـره ده او روژه ده



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ